
# دبزگرلور



Ketabton.com

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د غوايي لاندی

لاس و پښې چاودي مخ سپېره شونډي وچې يو کوچنی پېټی غنم يې پر شا را اړولي وو او په ستمي د کور پر لوري را روان دی، بشپړي نهه مياشتي يې خواري کښلې ده او منتونه يې وړي دي، تر څو چې په اخري دوبې (۹۰) منه غنم له بزګري نه ورغلل په دې کې يې (۹) منه غنم ملا صاحب ته زکات ورکړل، (۳۰) منه يې پش ته ورکړل او څلور منه هم (رقبه) ترينه يووړل، (۲۰) منه يې د هغو دوو زرو افغانيو په سود کې ورکړل کومي چې د ده د پلار د مرګ د خيرات او اسقاط لپاره د يوه سودخور نه په شپېته منه ګټه راوړي وې، په کور کې د ده ماينه او مور او څلور ماشومان د ده لاره څاري او ماشومان يې له کوره راوتلي او د هغې لاري خواته په ډېره اسره ګوري، پر کومه لاره چې د دوی پلار اوس کورته راځي او د رشې غنم راوړي، د ده مور او ماينې د سږ کال د محصولاتو په شاوخوا کې خورا ښې خوږې کيسې کولې او هيله يې وه چې ګوندي سږ به يو څو ورځې په نس ماړه سي، په دې وخت کې ماشومان يو په بل پسې د کور لوري ته راځغلي او ناري وهي چې بابا راغی او غنم يې په شا دي.

بزګر هم پېټی په شا په کور راننووت او پېټی يې د خوني له مخه کښېښود، مور او ماينې په الوتو بنو ترينه د رشې احوال پوښته چې په دې وخت کې يو سړی ترازو او کانې په لاس په انګړ راکښېووت او په کلک ږغ يې ورته وويل چې: "تا خو ويل پر راشه به

(c) ketabton.com: The Digital Library


غنم د پور په عوض کي درکړم او تا ټوله غنم خپل کورته راوړل، خان صاحب په قهر وو، ویل یې چي دا څلور پنځه میاشتي کېږي چي تا نه (کورغم) ورکړی او نه دي (سړي غم) ادا کړی دی، روپۍ خو نه لرې ژر شه غنم راوتله، مور یې چیغي کړې چي دا څو دانې چي ته یوسې نو موږ به څه خورو، ده ورته وویل خاوري!".

سم د لاسه یې اندی راواړاوه او ټوله غنم یې ځیني وتلل او په پای کي یې لا نور هم پسې په قهر خوار بزګر ته وویل چي: "دونه منه خو لا نور هم دربانديي پاته سول هغه به څرنګه سي".

خوار بزګر په داسي حال کي چي له ځواشینۍ نه یې پر ستوني درد وو، تش جیوال و ځانده او یوې خوا ته یې کښېښود.

ماشومانو وژړل او په ژړا ژړا کي یې وویل چي: "موږ خو وږي وو، تاسي خو به یوه لپه نیني راکولې، د ماشومانو انا د باندي ولاړه او یو څه شفتل یې په پلو کي راوړه او له مالګي سره یې له ماشومانو سره وخوړه، خو ماشومان په دې تر ډېري مودې قانع نه سول او د ډوډۍ لپاره یې په ژړا پیل وکړ.

خوار بزګر ته اوس د کلي ګاونډیانو پور هم نه ورکاوه، ځکه له یوې خوا د ده ګاونډیانو هم دغه راز د ناداری تکلیف درلوده، له بلې خوا ده چي پر راشه بانديي یو دوې کاسي اوړه ترینه پور کړي وو هغه یې بېرته نه وو ورکړي، او خپل اعتبار یې بایللی و، نو وروسته له هغه چي ډېر فکر یې وکړ، له ځانه سره یې فیصله وکړه چي د یوي غویي چي د ده وروستنۍ او یواځنۍ دا رایي وه د هغه په مرسته یې د خلکو بزګري کوله د عیال دقوت او لایموت لپاره حلال کړي او په خپله سترګي نهامي کړي په دې خصوص کي یې د مور او مايني رضایت هم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخيست او د يوې غويي يې حلال کړ چې د عيال د ژمي او مني قتغ سي او په خپله لځي پښې پړانګې کالي بلې منطقې له د خوارۍ او مزدورۍ لپاره ولاړ.

ده په يوه توده منطقه کې شپږ مياشتې د خاورو او ختو مزدوري وکړه، ده ته يې د ورځې شپږ افغانۍ ورکولې، چې درې افغانۍ يې په سپوره ډوډۍ خوړلې او درې افغانۍ يې د کور لپاره سپمولې، په پای کې د ده ټولـه ګټه (۴۶۸) افغانۍ سوه، چې په (۳۰۰) افغانۍ يې ځانته پنې او کوچنيانو ته يو يو کميس واخيست، دی شپږ مياشتې په کور خبر نه وو، او په خورا بيړه او ښه زړه د کور لوري ته راروان سو چې د کور په وره راننووت او لوز او ماينې يې چيغې کړې.

وروسته ورته څرګنده سوه چې مور او درې ماشومان يې د سکاروي په اثر په مني لا مړه سوي دي، يو ګړی وروسته د کلي ملک وروغوښت او ورته يې وويل چې: "ستا د مور او ماشومانو کفنونه مې ورکړي دي چې قيمت يې (۴۳۳) افغانۍ کېږي او هم مې ستا پر ځای په دې شپږو مياشتو کې (۱۲۳) افغانۍ د (کورغم) او (سړي غم) پرې کړی دی، تا خو ځان نهام او خپلې مېلې دې کولې، ټول غمونه دې پر مورږ راايله کړي وو، اوس دستي زما پور چې (۷۴۶) افغانۍ کېږي راکړه" ځکه چې ده دا ټول رقم پر يو ځای نه شو تاديه کولای نو محکمې ته يې کښېناوه چې بيا د دې خوار او د ده د کالۀ احوال چا وا نه خيست [10]

«۱۳۳۰» ش کال ۱۹۵۱ ع کال

[10] اوسني ليکوال لومړی ټوک

Scanned by CamScanner

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**